# د نوي مسلمان لپاره

# ګټور کوچنی کتاب

محمد الشهري

المختصر المفيد للمسلم الجديد - بشتو

بيان الإسلام
Bayan AL-Islam

ⓒ جمعية الدعوة و الارشاد وتوعية الجاليات بالربوة ، ١٤٤٥ هـ

فهرسة مكتبة الملك فهد الوطنية أثناء النشر

الشهري ، محمد

.- المختصر المفيد للمسلم الجديد - بشتو. / محمد الشهري - ط.١

الرياض ، ١٤٤٥هـ

٤٢ ص ؛ ١٤ × ٢١ سم

ردمك: ٩٧٨-٦٠٣-٨٤١٧-٥٠-٨

ديوي ٢٥٢,٢ ١٤٤٥/ ١٢٣٥٦


## شركاء التنفيذ :

بيان الإسلام | جمعية الربوة | رواد التراجم | المحتوى الإسلامي


يتاح طباعة هذا الإصدار ونشره بأي وسيلة مع الالتزام بالإشارة إلى المصدر وعدم التغيير في النص



Tel : +966 50 244 7000

info@islamiccontent.org

Riyadh 13245-2836

www.islamiccontent.org

# د نوي مسلمان لپاره

## ګټور کوچنی کتاب

المختصر المفيد للمسلم الجديد

(پښتو)

محمد الشهري

په مدد د نوم د الله چې ډیر او همیشه مهربان دی پیل کوم.

## سریزه

إِنَّ الْحَمْدَ للهِ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ وَنَسْتَغْفِرُهُ، وَنَعُوذُ بِاللهِ مِنْ شُرُورِ أَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّئَاتِ أَعْمَالِنَا، مَنْ يَهْدِهِ اللهُ فَلا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يَضْلُلْ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لا شَرِيكَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدَاً عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

اما بعد:

الله تعالی بنیادمو ته ډېر عزت ورکړی او په خپلو ډېرو مخلوقاتو يې هغوی غوره کړي دي، الله تعالی ویلي: (او بې شکه د آدم اولادي ته مو ډېر عزت ورکړی) [الإسراء: ٧٠] .

او د دې امت په عزت کې يې په دې نور ډېروالی هم کړی، چې د خپلو نبیانو تر ټولو غوره نبي محمد -(صلی الله علیه وسلم)- يې په کې رالیږلی، د خپلو کتابونو غوره کتاب قران کریم يې پرې نازل کړی او د خپل شریعت ستر دین اسلام يې ورته خوښ کړی دی، الله تعالی ویلي دي: (تاسو غوره امت یاست ایستل شوي یاست د خلکو د پاره، په نیکیو به امر کوئ او له بدیو به خلک منع کوئ او په الله ایمان لرئ، او که اهل کتابو (هم) ایمان راوړی وای (نو دا) حتماً ورته غوره وه، (بیا هم) ځیني يې مؤمنان خو زیاتره يې فاسقان دي) [آل عمران: ١١٠] .

پر انسان د الله تعالی یو لوی نعمت دا دی چې اسلام ته د هدایت احسان پرې وکړي، ثبات پرې ورنصیب کړي او پر احکامو او قوانینو يې عمل وکړي، دغه کتاب چې په حجم کې کوچنی خو د مضمون له پلوه لوی دی، په لنډه توګه د

اسلام په اړه نويو مسلمانانو ته هغه څه ورښيي چې ناپوه پاتې کېدل تري ښه نه دي، د دې ستر دين اصول ورښيي چې که ويې پېژندل او د هغو له غوښتنو سره سم يې عمل وکړ، نو د علم په طلب پسې به ووځي او پرې د لا پوهېدو هڅه به وکړي، څو خپل پروردګار، د هغه نبي محمد -(صلى الله عليه وسلم)- او د هغه دين اسلام لا ښه وپېژني؛ نو د الله بندګي به بيا په پوهه او بصيرت سره کوي، زړه به يې مطمئن وي او د عبادت په کولو الله ته په نږدې کېدو او د هغه د نبي محمد -(صلى الله عليه وسلم)- د سنتو په پيروۍ به يې ايمان زياتېږي.

الله تعالى نه غواړم چې د دې کتاب په هر ټکي کې برکت واچوي، اسلام او مسلمانانو ته پرې ګټه ورسوي، يوازې د هغه د رضا لپاره يې ومني او ثواب يې ټولو ژونديو او مړو مسلمانانو ته ورسوي.

وصلى الله وسلم على نبينا محمد وعلى آله وصحبه أجمعين.

محمد بن الشيبة الشهري.

٢/ ١١/ ١٤٤١هـ.

## الله مې رب دی.

الله تعالی ويلي: (ای خلکو د خپل رب عبادت وکړئ، هغه چې تاسې يې پيدا کړئ او له تاسي ړومبي، د دې لپاره چې ځان وساتئ) [البقرة: ٢١].

الله تعالی ويلي: (الله هماغه دی چې له هغه پرته بل لايق د عبادت نه شته) [الحشر: ٢٢].

الله تعالی فرمايلي دي: (د هغه په شان هيڅ شی نه شته(نه په ذات کې او نه په صفاتو کې) او هماغه ښه اورېدونکی ليدونکی دی) [الشورى: ١١].

• همدا الله زما رب هم دی او د بل هر شي رب هم، د هر شي مالک، پيدا کوونکی، روزي ورکوونکی او د هر شي تدبير جوړونکی.

• يوازې همغه د بندګۍ وړ دی، له هغه پرته نه بل پروردګار شته او نه بل د بندګۍ وړ.

هغه داسې ښکلي نومونه او لوړ صفات لري چې خپله يې هم ځان لره ثابت کړي او د هغه نبي -(صلی الله عليه وسلم)- هم ورلره ثابت کړي دي، چې په کمال او ښايست کې اوج ته رسېدلي، د هغه په څېر هيڅ شی نشته او هغه اورېدونکی او ليدونکی دی.

➢ ځينې ډېر ښايسته نومونه يې دا دي:

روزي ورکوونکی، مهربان، ځواکمن، پاچاه، اورېدونکی، امن ورروکونکی، ليدونکی، ذمه وار، پيدا کوونکی، باريک بين، بسنه کوونکی او بښونکی.

الرزاق: د بندګانو د هغې روزۍ ذمه وار، چې د هغوی زړونه او بدنونه پرې ژوندي دي.

الرّحْمن: د سترې او پراخې مهربانۍ خاوند چې هر شي ته ورغلې ده.

القدير: د بشپړ توان خاوند چې نه پکې عجز شته او نه ستړیا.

المَلِك: د لویۍ، قهر او تدبیر په صفاتو موصوف او د ټولو هغو شیانو مالک چې تصرف پکې کېږي.

السمیع: هغه ذات چې ټول پټ او ښکاره اورېدل کېدونکي شیان درک کوي.

السَّلَام: له هر نقصان، آفت او عیب نه پاک.

البَصِیرُ: هغه ذات چې هر شی یې تر نظر لاندې دی، که څومره پټ او کوچنی وي، د شیانو لیدونکی، پرې پوه او له پټو څخه یې خبر دی.

الوَکِیْل: د خپل مخلوق د روزیو ذمه وار، د هغوی د مصلحتونو سرپرست او هغه ذات چې خپل دوستان یې په دوستۍ نیولي، نو چارې یې ورته اسانې کړې او هر څه لره یې دی بس دی.

الخالق: په داسې توګه د شیانو راپیدا کوونکی او پنځوونکی، چې مخکې یې بېلګه نه ده لیدل شوې.

اللطیف: هغه ذات چې خپلو بندګانو ته عزت ورکوي، رحم پرې کوي او غوښتنې یې پوره کوي.

الکَافِي: هغه ذات چې خپلو بندګانو ته په ټولو هغو شیانو کې بسنه کوي چې ورته اړ دي، او هغه ذات چې د ده په مرسته کې له بل هر چا څخه بسنه او بې پروایي ده.

الغَفُوْر: هغه ذات چې خپل بندګان د هغوی د ګناهونو له شره ساتي او سزا پرې نه ورکوي.

مسلمان د الله په عجیبه او له اسانۍ ډک پیدایښت کې غور کوي، لکه ګورو چې مخلوقات خپلو کوچنیانو ته پاملرنه کوي، تر هغه یې په مړولو او پاملرنه حریص وي تر څو چې پر ځان بسیا شي، نو پاکي ده هغه ذات لره چې پیدا کړي یې دي او مهربان دی پرې، له مهربانۍ یې دا هم ده چې سره له دې چې دا مخلوقات یې پوره کمزوري دي، خو داسې څه یې ورته برابر کړي چې مرسته ورسره کوي او حالت یې ښه کوي.

## نبي مې محمد -(صلى الله عليه وسلم)- دی

(الله) تعالی فرمایلي دي: (–دا دی– تاسو ته یو داسې رسول راغلی چې خپله له همدا تاسو څخه دی، څه چې تاسو کړوي(په مشقت کې مو اچوي) هغه په ده ډېر ګران (او درانه) تمامېږي، ستاسې پر ښېګڼې حریص دی، په مؤمنانو مهربان خواخوږی دی) [التوبة: ١٢٨].

(الله) تعالی فرمایلي دي: (او ته مو د ټولو خلکو لپاره یوازې د یو رحمت په توګه لېږلی یې) [الأنبياء: ١٠٧].

محمد -(صلى الله عليه وسلم)- ډالۍ شوی رحمت.

محمد زوی د عبدالله -(صلى الله عليه وسلم)- د نبیانو او رسولانو ( د لړۍ) پای ته رسوونکی، الله تعالی له اسلامي دین سره ټولو خلکو ته راولېږه، څو خیر وروښيي چې لوی خیر توحید دی، او له شره یې منع کړي چې لوی شر الله سره شریک نیول دي.

په کومو شیانو یې چې امر کړی هغو کې یې طاعت واجب دی، او له کومو شیانو یې چې خبر ورکړی په هغو کې یې تصدیق واجب دی، له کومو شیانو یې چې منع او نهې کړې ځان ساتل ترې ضروري دي، او د الله عبادت به یوازې د هغه له شریعت سره سم کېږي.

د ده او له ده وړاندې د ټولو انبیاوو رسالت د یوازېني الله عبادت ته بلنه وه، چې هیڅ شریک نه لري.

د هغه -(صلی الله علیه وسلم)- ځینې صفات په لاندې ډول دي:

رښتینولي، مهرباني، نرمي، صبر، زړورتیا، سخا، ښه اخلاق، عدل، تواضع او بخښنه.

## قران کریم مې د رب کلام(خبری یې) دی

الله تعالی فرمایلي دي: (ای خلکو یقینا چې د خپل رب له لوري مو ښکاره دلیل درغلی او تاسو ته مو څرګنده رڼایي نازله کړې (چې قران دی) [النساء: ۱۷٤].

قران کریم د الله تعالی هغه کلام دی چې پر خپل نبي محمد -(صلی الله علیه وسلم)- یې نازل کړی دی، څو خلک -د کفر- له تیارو نه -د ایمان- رڼا ته وباسي او نېغې لارې ته یې برابر کړي.

څوک یې چې ولولي؛ هغه لره لوی ثواب دی او څوک یې چې پر لارښوونو عمل وکړي، په نېغه لاره به تللی وي.

## د اسلام بناوې پېژندل غواړم

رسول الله -(صلی الله علیه وسلم)- ویلي دي: (اسلام پر پنځو شیانو بنا دی، د دې ګواهي چې له الله پرته د بندګۍ وړ هیڅوک نشته او محمد-(صلی الله علیه

وسلم)- د الله رسول دی، لمونځ قايمول، زکات ورکول، د رمضان روژه نيول او د بيت الله حج کول).

د اسلام بناوې داسې عبادتونه دي چې هر مسلمان يې بايد ترسره کړي او د يوه انسان اسلام تر هغه نه دی صحيح، چې د دې بناوو د فرضيت عقيده و نه لري او په بشپړه ډول يې ترسره نه کړي، ځکه اسلام پر همدې بنا دی، له همدې امله د اسلام بناوې ورته ويل کيږي.

➢ دا بناوې دغه دي:

❖ **لومړی بنا يا رکن:** د دې ګواهي ورکول چې له الله پرته د بندګۍ وړ بل هيڅوک نه شته او محمد د الله رسول دی.

الله تعالی فرمايلي دي: (نو پوی شه چې يقينا له الله پرته بل د عبادت وړ نه شته) [محمد: ١٩].

او الله تعالی فرمايلي دي: (-دا دی- تاسو ته يو داسې رسول راغلی چې خپله له همدا تاسو څخه دی، څه چې تاسو کړوي (تاسو ته سخت وي) هغه په ده ډېر ګران (او درانه) تماميږي، ستاسې پر ښېګڼې حريص دی، په مؤمنانو مهربان خواخوږی دی) [التوبة: ١٢٨].

د «لا إله إلا الله» د ګواهۍ معنا دا ده، چې له الله پرته بل هيڅ حق معبود نشته.

د «محمد رسول الله» د ګواهۍ معنا دا ده، چې په کوم شي هغه امر کړی وي‌يې منو، له کومو شيانو يې چې خبر ورکړی تصديق يې وکړو، له کومو شيانو يې چې نهې او منع کړې ډډه ترې وکړو او يوازې له شريعت سره سم د الله بندګي وکړو.

❖ **دویمه بنا:** په صحیح توګه د لمانځه ادا کول.

الله تعالی فرمايلي دي: (او لمونځ و دروئ) [البقرة: ۱۱۰].

د لمانځه قايمول دې ته وايي چې په هغه طريقه ادا کړی شي چې الله تعالی فرض کړی دی او د هغه رسول محمد -(صلى الله عليه وسلم)- موږ ته ښودلی دی.

❖ **درېيمه بنا:** د زکات ورکړه.

الله تعالی فرمايلي دي: (او زکات ورکوئ) [البقرة: ۱۱۰].

زکات الله تعالی د مسلمان د ايمان د رښتينولۍ ازمويلو لپاره فرض کړی دی، بل دا چې د خپل پروردګار د دې احسان شکر ادا کړي چې د مال نعمت يې ورکړی او د غريبانو او اړمنو مرسته وکړي.

د زکات ورکړه داسې وي چې مستحقو خلکو ته ورکړل شي.

زکات په هغه مال کې يو فرض حق دی چې ټاکلې اندازې ته رسېدلی وي، اته (۸) ډوله خلکو ته ورکول کېږي چې الله په قران کريم کې ذکر کړي دي او غريب او مسکين هم په کې دي.

د زکات په ورکړه کې د مهربانۍ او زړه سوي، د مسلمان د اخلاقو او مال د پاکولو، د غريبانو او مسکينانو د زړونو خوشحالولو او د مسلمانې ټولنې د وګړو تر منځ د مينې او ورورولۍ د اړيکو پياوړي کولو صفت پروت دی، له همدې امله يې نېک مسلمان د زړه په خوښه ادا کوي او په ورکړه يې له دې امله خوشحالېږي چې نور خلک پرې خوشحاله شوي دي.

د زکات اندازه په ذخیره شویو سرو زرو، سپینو زرو، نغدو او د ګټې لپاره پیر او پلور ته جوړو شویو سوداګریزو توکو کې چې قیمت یې ټاکلې اندازې ته رسېدلی او یو بشپړ کال پرې تېر شوی وي؛ ۲.۵٪ ده.

دغه راز که څوک یو معلوم شمېر چارپای ژوی (اوښ، غوا او ګډې) ولري او د کال ډېری موده بې له دې چې خاوند یې خوراک ورکړي د زمکې ګیاوې وخوري، نو زکات په کې فرض دی.

دغه راز په هغو دانو، مېوو، کانونو او خزانو کې هم زکات فرض دی چې له زمکې راوځي او ټاکلې اندازې ته رسېدلي وي.

❖ **څلورمه بنا:** د رمضان د میاشتې روژه نیول

الله تعالی فرمایلي دي: (ای مؤمنانو پر تاسو روژه داسې فرض شوې، لکه له تاسو نه پر مخکینیو چې فرض شوې وه، د دې لپاره چې ځان ساتنه وکړئ) [البقرة: ۱۸۳].

رمضان په هجري کلیزه کې د کال نهمه میاشت ده، دا د مسلمانانو په اند یوه محترمه میاشت ده چې د کال د نورو میاشتو په پرتله ځانګړی مقام لري او ټوله میاشت روژه نیول یې د اسلام له پنځو ارکانو څخه یو رکن دی.

د رمضان روژه دې ته وایي چې د روژې د مبارکې میاشتې په ټولو ورځو کې د سهار له راختو څخه تر لمر لوېدو پورې له خوراک، څښاک، کوروالي او بل هر روژه ماتوونکي شي څخه په دې کولو د الله بندګي وکړی شي.

❖ **پنځمه بنا:** د بیت الله شریف حج کول.

الله تعالی فرمايلي دي: (او د الله لپاره پر خلکو د دې کور حج (لازم) دی، څوك چې هغه ته د لارې وس پيدا کړي) [آل عمران : ۹۷].

حج په ژوند کې يو ځل پر هغه چا فرض دی چې د ادا کولو توان يې لري، دا په ټاکلي وخت د ځانګړو عباداتو د ادا کولو په موخه د بيت الله شريف او د مکې مکرمې د نورو مقدسو ځايونو قصد ته وايي، حج نبي كريم -(صلى الله عليه وسلم)- هم کړی و او له هغه وړاندې نورو پيغمبرانو هم او ابراهيم عليه السلام ته الله امر کړی و چې خلکو کې د حج اعلان وکړي، الله تعالی په دې اړه په قران کريم کې ويلي دي. (او په خلکو کې د حج اعلان وکړه چې له هرې لرې لارې نه پلي او په هر (ډول) ډنګر اوښ سپاره درته راشي) [الحج : ۲۷].

## د ايمان ارکان پېژندل غواړم

له نبي -(صلى الله عليه وسلم)- څخه د ايمان په اړه وپوښتل شو نو ويې ويل: (چې په الله، په ملايکو يې، په کتابونو يې، په رسولانو يې، د قيامت په ورځ او د تقدير په خير او شر ايمان ولرې).

د ايمان ارکان د زړه هغه عبادتونه دي چې هر مسلمان ته ضرور دي او د يو چا اسلام تر هغه نه صحيح کېږي څو پر دغو عبادتونو عقيده و نه لري، له همدې امله ورته د ايمان ارکان ويل شوي دي. د اسلام له ارکانو سره يې توپير دا دی، چې د اسلام ارکان هغه ظاهري اعمال دي چې انسان يې په خپلو غړو ترسره کوي، لکه کلمه طيبه ويل، لمونځ او زکات، او د ايمان ارکان د زړه هغه اعمال دي چې

انسان يې په زړه سره ادا کوي، لکه پر الله، د هغه پر کتابونو او د هغه پر رسولانو ايمان درلودل.

**د ايمان مفهوم او معنا:** پر الله، د هغه پر ملايکو، کتابونو، رسولانو، د اخرت پر ورځ او د تقدير په خير او شر د زړه کلک تصديق او د ټولو هغو شيانو پيروي چې رسول -(صلی الله عليه وسلم)- راوړي، او د هغو پلي کول: د ژبې په وينا لکه د «لا إله إلا الله» ويل، د قران کريم تلاوت، تسبيح (سبحان الله) او تهليل(لا اله الا الله) او د الله ثنا بيانول.

**او د ظاهري غړو په عمل:** لکه لمونځ، حج او روژه... او په باطني غړو چې په زړه پورې تړلي دي، لکه د الله محبت او هغه نه وېره، پر هغه توکل او هغه لره اخلاص.

**ځينې خلک يې لنډ تعريف داسې کوي:** د زړه باور او تصديق، د ژبې اقرار او د غړو عمل، چې په طاعت زياتېږي او په ګناه کمېږي.

❖ **لومړی رکن:** پر الله ايمان

الله تعالی فرمايلي دي: (بې شکه مؤمنان هغه کسان دي چې په الله يې ايمان راوړی وي) [النور: ٦٢].

پر الله ايمان دا غوښتنه کوي چې په ربوبيت، الوهيت او اسماوو صفاتو کې هغه يوازې ومنل شي، او ايمان لاندې شيانو ته شامل دي:

د الله (سبحانه وتعالی) پر شتون ايمان.

د الله (سبحانه وتعالی) پر ربوبيت ايمان او دا چې هغه د هر شي مالک، پيدا کوونکی، روزي ورکوونکی او کارساز دی.

د الله پاک پر الوهيت ايمان او دا چې يوازې همغه د عبادت وړ دی، چې هيڅ شريک پکې نه لري: لکه لمونځ، دعاء، نذر، حلاله، مرسته غوښتل، پناه غوښتل او ټول نور عبادتونه.

د الله پر هغو ښايسته نومونو او لوړو صفتونو ايمان چې خپله يې هم ځان ته ثابت کړي او نبي -(صلى الله عليه وسلم)- يې هم ورلره ثابت کړي دي، او د هغو نومونو او صفتونو نفي کول چې هغه له خپل ځان نه نفي کړي يا يې نبي -(صلى الله عليه وسلم)- ترې نفي کړي دي، او دا چې نومونه او صفتونه د کمال او ښکلا اخري حد ته رسېدلي دي او د هغه په څېر هيڅ شی نشته، او هغه اورېدونکی او ليدونکی دی.

❖ **دويم رکن:** پر ملايکو ايمان

الله تعالى فرمايلي دي: (الله لره ستاينه ده، له نوي سره د اسمانو او ځمکې پيدا کوونکي (لره)، د دوه دوه، درې درې او څلورو څلورو وزرونو والا ملايکو استازي ګرځوونکي (الله) لره، چې هغه په مخلوق کې څنګه غواړي هومره زياتوالی کوي يقينا الله په هر څه قادر دی) [فاطر: ۱].

موږ پر دې ايمان لرو چې ملايکې يوه غيبي دنيا ده او هغوی د الله داسې بندګان دي چې له نور(رڼا) نه يې پيدا کړي دي او ځان لره يې طاعت کوونکي او سرټيټي کړې دي.

او دا چې هغوی يو ستر مخلوق دی چې ځواک او شمېر يې يوازې الله تعالى ته معلوم دی، هر يو يې داسې نومونه، صفتونه او دندې لري، چې الله تعالى ورته

ځانګړې کړي دي، جبریل علیه السلام هم له دوی څخه دی، چې د الله تعالی له لوري د هغه رسولانو ته د وحې وړل ور په غاړه و.

❖ **دریم رکن:** پر کتابونو ایمان.

(الله) تعالی فرمایلي دي: تاسو ووایئ: مونږ پر الله ایمان راوړی او پر هغه څه چې مونږ ته نازل کړی شوي دي، او پر هغه څه چې ابراهیم او اسمٰعیل او اسحٰق او یعقوب او (د هغوی) اولادې ته نازل کړی شوي دي، او (مونږ ایمان راوړی دی) پر هغه څه چې موسٰی او عیسٰی ته ورکړی شوي دي، او پر هغه څه چې د خپل رب له جانبه (نورو) نبیانو ته ورکړی شوي دي، مونږ په دوی کې د هېڅ یو په مینځ کې فرق نه کوو، او مونږ خاص د هغه (الله) حکم منونکي یو. [البقرة: ۱۳۶].

پر دې غوڅ باور چې ټول اسماني کتابونه د الله کلام دی.

او دا چې دا کتابونه په ښکاره حق سره د الله عز وجل له لوري د خپلو بندګانو لپاره د هغه پر رسولانو رانازل شوي.

او دا چې الله پاک خپل نبي محمد -(صلی الله علیه وسلم)- ټولو خلکو ته راولیږه، نو په دې سره یې ټول مخکیني دینونه منسوخ کړل او قران کریم یې پر ټولو اسماني کتابونو مسلط او د هغوی ناسخ وګرځاوه، او الله له هر ډول بدلون او تحریف نه د قران کریم د ساتنې ذمه واري واخیسته. الله تعالی ویلي. (یقینا موږ خپله دا ذکر نازل کړی او همدا موږ یې حتما ساتونکي یو) [الحجر : ۹].

څکه قران کریم انسانانو ته د الله تعالی وروستی کتاب دی او نبي یې محمد -(صلی الله علیه وسلم)- وروستنی پیغمبر دی، او اسلامي دین هغه دین دی چې الله

د قیامت تر ورځې پورې انسانانو ته خوښ کړی دی، الله تعالی فرمایلي دي: (یقینا الله ته منلی دین اسلام دی) [ال عمران: ۱۹].

هغه اسماني کتابونه چې الله تعالی په خپل کتاب کې ذکر کړي دي، دا دي:

د مخلوقاتو د پالونکي له لوري پر نبي محمد (صلی الله علیه وسلم) نازل شوی دی.

تورات: چې الله پر خپل نبي موسی علیه السلام نازل کړی و.

انجیل: چې الله پر خپل نبي عیسی علیه السلام نازل کړی و.

زبور: چې الله پر خپل نبي داوود علیه السلام نازل کړی و.

د ابراهیم صحیفې: چې الله پر خپل نبي ابراهیم علیه السلام نازلې کړې وې.

❖ **څلورم رکن:** پر پیغمبرانو ایمان.

الله تعالی فرمایلي دي: (او موږ هر ولس ته یو رسول ولېږه، چې الله ولمانځئ او له باطلو معبودانو ځان وساتئ) [النحل: ۳۶].

پر دې غوڅ یقین چې الله تعالی په هر امت کې یو رسول لېږلی دی، چې هغوی یې یوازې د الله عبادت ته بلل، چې شریک نه لري، او د هغه څه نه منل چې له الله پرته یې عبادت کېږي.

او دا چې هغوی ټول انسانان، سړي او د الله بندګان وو، او هغوی رښتوني او تصدیق کړل شوي وو، پرهېزګاران او امانتدار وو، د نېغې لارې ښودونکي او پر نېغه لاره برابر وو، او څه چې الله ورسره رالېږلي وو په بشپړ ډول یې خلکو ته رسولي دي او ټول پر څرګند حق او روښانه هدایت روان وو.

د هغوی د لومړي او وروستي د ټولو دعوت د دین په اصل کې ایکی یو و، چې په بندګۍ کې د الله یو ګڼل او شریک ورسره نه نیول و.

❖ **پنځم رکن:** د اخرت په ورځ ایمان

(الله) تعالی فرمایلي دي: (الله هماغه دی چې له هغه پرته کوم بل د عبادت وړ نشته، خامخا به مو د قیامت په هغه ورځ راغونډ کړي چې څه شك پکې نشته او تر الله زیاته رښتیني خبره به د چا وي؟) [النساء: ۸۷].

د اخرت د ورځې اړوند پر هر هغه شي پوخ باور درلودل چې الله عز وجل په خپل مقدس کتاب کې د هغې په اړه خبر راکړی دی، یا ګران نبي محمد -(صلی الله علیه وسلم)- راته بیان کړي دي، لکه د انسان مرګ، له قیامت وروسته بېرته راژوندي کېدل، شفاعت، میزان (تله)، حساب کتاب، جنت، دوزخ او د اخرت د ورځې اړوند نور شیان.

❖ **شپږم رکن:** د تقدیر په خیر او شر باندې ایمان

(الله) تعالی فرمایلي دي: (بې شکه موږ هر شی په یوه ټاکلې اندازه پیدا کړی) [القمر: ٤٩].

دا باور درلودل چې دنیا کې مخلوقات له کومو پېښو سره مخ کېږي، ټول د یوازیني الله (سبحانه وتعالی) په علم، تقدیر او تدبیر تر سره کېږي، او دا چې دغه تقدیر د انسان له پیدایښت وړاندې لیکل شوی و، او انسان اراده او واک لري او د خپلو کارونو حقیقي فاعل (ترسره کوونکی) دی، خو دا هیڅ څه د الله له پوهې، ارادې او خوښې نه وتلي ندي.

نو پر تقدیر ایمان څلور مرتبې لري چې دا دي:

➢ لومړی: د الله پر شامل او چاپېر علم ایمان.

- دویمه: د الله له لوري د قيامت تر ورځې د هر پېښېدونکي شي پر ليکلو ايمان.
- درېيمه: د الله پر نافذ مشيئت او بشپړ قدرت ايمان، نو چې څه د الله خوښ وي هغه به وي او چې څه يې خوښ نه وي، هغه به نه وي.
- څلورمه: پر دې ايمان چې الله د هر شي پيدا کوونکی دی او په پيدايښت کې هيڅ شريک نه لري.

## اودس زده کول غواړم

(الله) تعالی فرمايلي دي: (بې شکه الله بيا بيا توبه کوونکي خوښوي او ځان پاك ساتونکي خوښوي) [البقرة: ۲۲].

رسول الله -(صلی الله عليه وسلم)- فرمايلي دي: (زما د دې اودس په څېر اودس وکړه).

د لمانځه لوی شان لدې څخه معلومېږي چې الله محکې ترې پاکوالی فرض کړی او د لمانځه د صحت لپاره يې شرط ګرځولی، نو پاکي د لمانځه کيلي ده او فضيلت ته په کتو يې زړه د لمانځه ادا کولو ته شوق پيدا کوي. رسول الله - (صلی الله عليه وسلم) - فرمايلي دي: (پاکوالی نيم ايمان دی او لمونځ رڼايي ده).

او رسول الله (صلی الله عليه وسلم) فرمايلي: (چا چې اودس وکړ او ښه يې وکړ، نو ګناهونه به يې له بدنه ووځي).

نو بنده د اودس په کولو سره د حسي پاکۍ له پلوه او د نبي -(صلی الله عليه وسلم)- له لارښوونو سره سم يوازې الله لپاره د دې عبادت په ترسره کولو د معنوي پاکۍ له امله پاک سپيڅلی درېږي.

هغه څه چې اودس کول ورته واجب دي:

۱. مطلق لمونځ که فرضي وي، که نفلي.

۲. له کعبې شریفې تاوېدل (طواف).

۳. په قران کریم لاس لګول.

په پاکو اوبو؛ اودس او غسل کوم:

**پاکې اوبه:** ټولې هغه اوبه چې له اسمانه راتوی شوې وي یا له زمکې راوتلې وي او په خپله اصلي بڼه پاتې وي، په دریو صفتونو (رنګ، خوند او بوی) کې یې یو هم په داسې شي نه وي بدل شوی چې د اوبو پاکوالی له منځه وړي.

اودس زده کول غواړم:

**لومړی ګام:** نیت چې زړه یې ځای دی، د نیت معنا: الله تعالی ته د نږدیکت له مخې د عبادت په کولو د زړه عزم.

**دویم ګام:** د لاسونو (خپړو) وینځل.

**دریم ګام:** مضمضه کول

مضمضه: په خولې کې اوبو اچولو، اړولو راړولو او بېرته راویستلو ته وایي.

څلورم ګام: استنشاق

استنشاق: په ساه باندې اوبو کشولو او د پوزې وروستۍ برخې ته رسولو ته وایي.

بیا استنثار دی: چې په ساه باندې د پوزې ګړنګ وغیره راویستلو ته وایي.

**پنځم ګام:** مخ وینځل

د مخ اندازه:

مخ: چې مخ کېدل پرې کېږي.

اندازه يې په پلنوالي له يوه غوږ نه تر بل پورې ده.

او اندازه يې په اوږدوالي په عادي توګه د سر د ويښتانو د شنه کېدو له ځايه د زنې تر ښکتنۍ برخې پورې ده.

د مخ وينځل، سره د مخ د ټولو کوچنيو ويښتانو، او همدا راز له ويښتانو پاک ځای او راوتلی هډوکی.

سپينوالی: هغه (له ويښتانو پاک ځای) د غوږ د پوځکۍ او راوتلي هډوکي تر منځ ځای ته ويل کېږي.

عذار: هغه ويښته دي چې د مخ پر راوتلي هډوکي چې د غوږ هغه سوري ته برابر وي چې سر ته تللی، او ښکته د غوږ مېخ ته رسي.

د مخ وينځل دغه راز د ږيرې ټولو ګڼو او ترې ځړېدونکو ويښتانو ته شامل دی.

**شپږم ګام:** د لاسونو وينځل، د ګوتو له څوکو نيولې تر څنګلو پورې.

او څنګلې د لاسونو په فرضي وينځلو کې داخلې دي.

**اووم ګام:** د غوږونو په ګډون يو ځل په لاسونو د ټول سر مسح کول.

د سر له مخکينۍ برخې به پيل کوي تر وروستۍ برخي به لاسونه وړي او بېرته به يې راګرځوي.

د شهادت ګوتې به په غوږونو کې ننباسي.

او غټې ګوتې به د غوږونو د ظاهر مخالفې نيسي او د غوږونو شا او مخ به پرې مسح کوي.

**اتم ګام:** د پښو وينځل، د ګوتو له څوکو تر ښنګرو (ګيټکيو) پورې، او ګيټکۍ هم د پښو په فرضي وينځلو کې داخلې دي.

ګټيکۍ: د پونديو په ښکته برخې کې راوتلي دوه هډوکي دي.

اودس په دې شيانو ماتيږي:

١. له سبيلينو وتونکي شيان لکه تشې او غټې بولې، باد، مني او مذي.

٢. د ژور خوب، بې هوشۍ، نشه راوړونکي او لېونتوب له امله د عقل زايلېدل.

٣. هر هغه شی چې غسل فرض کوي، لکه جنابت، حيض او نفاس.

کله چې انسان خپله اړتيا پوره کړي، نو نجاست پاکول پرې لازميږي، يا په اوبو چې دا غوره ده، يا بغير له اوبو په هغو شيانو چې نجاست له منځه وړي، لکه تيږې، کاغذونه او ټوټې وغيره، چې درې يا له دريو څلو زيات به يې کاروي، خو پاک او روا شی به وي.

## پر موزو او جرابو مسحه.

د موزو يا جرابو د اغوستلو پر مهال مسحه پرې شوني ده او د پښو وينځلو ته اړتيا نه پيښيږي، خو په لاندې شرطونو:

١. چې له کوچنۍ او سترې بې اودسۍ وروسته په بشپړ پاکوالي –چې پښې هم په کې وينځل شوې وي– اغوستل شوې وي.

٢. چې خپله پاکې او غير نجسې وي.

٣. چې مسحه په ټاکل شوې موده کې وي.

٤. چې حلالې وي، نو غلا شوې يا غصب شوې نه وي.

**موزې:** چې پښې ته کوم نرم پوستکی وغیره اغوستل کېږي، هغه بوټان هم ورته ورته دي چې قدمونه (پښې) پټوي.

**جرابې:** چې انسان پښو ته کومه ټوټه وغیره وراغوندي او د جرابو په نوم پېژندل کېږي.

- پر موزو د مسحې د رواوالي حکمت:

پر موزو د مسحې حکمت پر هغو مسلمانانو اساني کول دي، چې د موزو یا جرابو ویستل او د پښو وینځل ورته سخت وي، په ځانګړي ډول د ژمي، سختې یخنۍ او سفر په وختونو کې.

- د مسحې موده:

**مقیم:** یوه شپه او ورځ (۲٤ ساعته).

**مسافر:** درې شپې او ورځې (۷۲ ساعته).

د مسحې موده –له بې اودسۍ وروسته– پر موزو یا جرابو له لومړنۍ مسحې سره سمه پیلېږي.

- پر موزو یا جرابو د مسحې طریقه:

۱. لاسونه لمدول کېږي.

۲. لاسونه د پښې پر پاس لوري کش کول کېږي (د ګوتو له څوکو د پنډۍ تر پیله).

۳. ښۍ پښه پر ښي لاس او چپه پښه پر چپ لاس مسحه کېږي.

- د مسحې ماتوونکي:

۱. هر شی چې غسل واجبوي.

۲. د مسحې د مودې وخت ختمېدل.

## غسل:

کـه سړي يا ښځې کوروالی وکړ، يا د ويښې يا خوب حالت کې ترې مني په شهوت ووتل، غسل پرې واجبېږي څو لمونځ ادا کړی شي يا بل هغه شی چې پاکي ورته اړينه ده، دغه راز که ښځه له حيض يا نفاس نه پاکه شوه، غسل پرې واجب دی، څو د لمانځه يا بل هغه شي ادا کول ورته روا شي چې پاکي ورته اړينه ده.

- د غسل طريقه داسې ده:

چې مسلمان خپل ټول بدن لوند کړي، په هره طريقه چې وي، او د خولې او پوځې وينځل هم په کې دي، نو چې ټول بدن يې لوند شو، غټه بې اودسي ترې لرې شوه او پاکي يې بشپړه شوه.

- پر جنوب د لاندې شيانو کول بند دي، تر څو چې غسل وکړي:

١. لمونځ.
٢. د کعبې طواف.
٣. جومات کې پاتې کېدل، خو له درنګ پرته جومات کې تېرېدی شي.
٤. په قران کريم لاس وهل.
٥. د قران کريم تلاوت.

## تيمم

کـله چې مسلمان د پاکوالي لپاره اوبه پيدا نه کړي، يا يې د کومې ناروغۍ وغيره له امله او يا د لمانځه د وخت د تېرېدو له وېرې استعمال نه کړی شي، نو په خاوره به تيمم کوي.

**طریقه یې داسې ده،** چې یو ځل لاسونه ووهي او یوازې مخ او دواړه لاسونه پرې مسح کړي. په دې شرط چې خاوره پاکه وي.

- تیمم په دغو شیانو ماتېږي:

۱. په ټولو هغو شیانو ماتېږي چې اودس پرې ماتېږي.

۲. چې د کوم عبادت لپاره تیمم کېږي، د هغه له پیل وړاندې اوبه ومومندل شي.

## لمونځ زده کول غواړم

الله جل جلاله پر مسلمان باندې په شپه او ورځ کې پنځه لمونځونه فرض کړي، چې د سهار، ماسپښین، مازدیګر، ماښام او ماخوستن لمونځونه دي.

- لمانځه ته چمتووالی نیسم.

کله چې د لمانځه وخت داخل شي، مسلمان له وړې بې اودسۍ او که غټه بې اودسي ولري، له غټې بې اودسۍ ځان پاکوي.

**غټه بې اودسي:** هغه چې پر مسلمان غسل واجبوي.

**وړه بې اودسي:** هغه چې پر مسلمان اودس لازموي.

مسلمان په پاکو جامو او داسې پاک ځای کې لمونځ کوي چې له نجاستونو پاک وي، او خپل عورت پټوي.

مسلمان د لمانځه وخت کې په مناسبو جامو ځان ښکلی کوي او خپل بدن پرې پټوي، او سړي ته نه دي روا چې لمانځه کې د نامه او زنګون تر منځ لږ ځای هم ښکاره کړي. ښځې ته لازم دي چې په لمانځه کې له مخ او لاسونو پرته ټول بدن پټ کړي.

مسلمان په لمانځه کې خبرې نه کوي او يوازې لمونځ وايي، امام ته غوږ نيسي، يو خوا بل خوا نه ګوري، او که د لمانځه ځانګړې عبارتونه يې نه وي زده نو د لمانځه تر پايه د الله تسبيح او ذکر کوي، او پرې لا زمېږي چې ژر تر ژره لمونځ او د هغه عبارتونه زده کړي.

➢ لمونځ زده کوم

**لومړی ګام:** د هغې فريضې لپاره نيت چې کول يې غواړې، او د نيت ځای زړه دی. له اودس کولو وروسته قبلې ته مخ کوم او که کولی مې شو نو په ولاړه لمونځ کوم.

**دويم ګام:** د اوږو (وليو) برابر لاسونه پورته کوم او لمانځه کې د ننوتو په نيت وايم: (الله اکبر).

**دريیم ګام:** له رواياتو سره سم د لمانځه د پيل دعا وايم، چې يوه يې دا ده. (سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، وَتَبَارَكَ اسْمُكَ وَتَعَالَى جَدُّكَ، وَلَا إِلَهَ غَيْرُكَ).

**څلورم ګام:** په الله باندې له رټل شوي شيطان نه پناه غواړم، نو وايم: (أعوذُ باللهِ من الشيطان الرجيم)

**پنځم ګام:** په هر رکعت کې د فاتحې سورت وايم، چې دا دی: د الله په نوم پيل کوم چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم کوونکی دی ټول (د کمال) صفتونه خاص د الله لپاره دي چې د ټولو عالَمونو ښه پالونکی دی. ډېر زيات او، هميشه رحم کوونکی دی. د بَدلې د ورځې مالك دی. خاص ستا عبادت کوو او خاص له تا نه مرسته غواړو ته مونږ ته سَمَه (نېغه) لاره وښيَه. ليار د هغه کسانو چې تا پر هغوی باندې انعام کړی دی؛ چې نه پر هغوی باندې غضب شوی او نه ګمراهان دي.

له فاتحې وروسته د هر لمانځه په لومړي او دويم رکعتونو کې د قران کريم يوه اسانه برخه وايم، او دا فرض نده (د سورت فاتحې څخه پس نور قرات)، خو په کولو کې يې لوی ثواب دی.

**شپږم ګام:** (الله اکبر) وايم او رکوع ته ځم، تر دې چې ملا مې سيده برابره شي او لاسونه مې پر زنګنونو وي چې ګوتې يې خلاصې وي، بيا رکوع کې وايم: (سبحان ربي العظيم).

**اووم ګام:** د (سمع الله لمن حمده) په ويلو له رکوع راپورته کېږم او لاسونه د اوږو برابر پورته کوم، کله مې چې بدن په ولاړه ښه نېغ شي، (ربنا ولک الحمد) وايم.

**اتم ګام:** (الله اکبر) وايم او پر لاسونو، زنګنونو، پښو، تندي او پوزه سجده کوم، سجده کې (سبحان ربي الأعلی) وايم.

**نهم ګام:** (الله أکبر) وايم او له سجدې راپورته کېږم، پر چپه پښه کښېنم او ښۍ پښه دروم، تر دې چې په ناسته نېغه ملا برابر شم، بيا وايم: (ربي اغفر لي).

**لسم ګام:** (الله أکبر) وايم او د لومړۍ سجدې غوندې بله سجده کوم.

**يوولسم ګام:** د (الله أکبر) په ويلو له سجدې راپورته کېږم او ښه نېغ درېږم، بيا د لومړي رکعت په څېر د لمانځه پاتې رکعتونه کوم.

د ماسپښين، مازديګر، ماښام او ماخوستن لمونځونو کې له دويم رکعات وروسته د تشهد لپاره لومړۍ ناسته کوم، او تشهد دا دی. ټول تعريفونه، عبادتونه او ټولې پاکيزه خبرې الله لره دي، سلام دې وي پر تا باندې ای نبي او پر تا باندې دې د الله رحمت او برکتونه وي، او سلامتيا دې وي پر مونږ او د الله پر نيکو او صالحو بندګانو، شاهدې ادا کوم چې له الله څخه پرته بل څوک د عبادت وړ نشته، او

شاهدي ادا کوم چې محمد-صلی الله علیه و سلم-د الله بنده او رسول دی . له دې وروسته دریيم رکعات ته پورته کېږم.

د هر لمانځه له وروستي رکعات وروسته د اخیدي تشهد لوستو لپاره کښېنم، چې هغه دا دی: ټول تعریفونه، عبادتونه او ټولې پاکیزه خبرې الله لره دي، سلام دې وي پر تا ای نبي او پر تا دې د الله رحمت او برکتونه وي، سلامتیا دې وي پر مونږ او د الله پر نیکو او صالحو بندګانو، شاهدي ادا کوم چې له الله څخه پرته بل څوک د عبادت وړ نشته، او شاهدي ادا کوم چې محمد د الله بنده او رسول دی، ای الله! رحمت نازل کړې پر محمد -(صلی الله علیه وسلم)- او د هغه په کورنۍ، لکه څرنګه دې چې پر ابراهیم او د هغه په کورنۍ نازل کړی و، یقیناً ته ستایلی او لوی یې. ای الله! برکت نازل کړې پر محمد -(صلی الله علیه وسلم)- او د هغه په کورنۍ، لکه څرنګه دې چې په ابراهیم او د هغه په کورنۍ برکت نازل کړی و، یقیناً ته ستایلی او لوی یې.

**دولسم ګام:** له دې وروسته لمانځه نه د وتو په نیت ښي لور ته سلام ګرځوم او وایم: (السلام علیکم ورحمة الله)، وروسته کیڼ لور ته سلام ګرځوم او وایم: (السلام علیکم ورحمة الله)، دې سره به مې لمونځ بشپړ کړی وي.

## د مسلمانې ښځې ستر پرده

(الله) تعالی فرمایلي دي: (ای نبي خپلو مېرمنو، لورانو او د نورو مؤمنانو ښځو ته ووایه چې خپل پړوني دې پر ځان راخپروي، دا کار د دې ډېره ورتیا لري چې هغوی وپېژندلی شي، بیا به نه ځورول کیږي او الله (ډېر) بخښونکي مهربان دی). [الأحزاب: ٥٩].

الله جل جلاله پر مسلمانه ښځه باندې له پردیو سړیو څخه په ځایي دودیزه جامه حجاب کول او د عورت او ټول بدن پټول فرض کړي دي، هغې ته روا نه ده چې حجاب يې له خپل مېړه او محارمو پرته د بل چا په مخ کې لرې کړي، **محارم**

**هغه خلک دي چې مسلمانې ښځې ته له هغوی سره واده کول د تل لپاره حرام وي او هغوی دا کسان دي:** پلار او همداسې پورته، زوی او همداسې ښکته، ترونه، ماماګان، ورور، وراره، خوريين، د مور خاوند، د مېړه پلار او همداسې پورته، د مېړه زوی او همداسې ورپسې ښکته، رضاعي ورور او د رضاعي مور خاوند، او د رضاعت له مخې هغه خلک حرامېږي چې د نسب له مخې حرامېږي.

- مسلمانه ښځه په خپله جامه کې څو شيانو ته پام کوي:

**لومړی:** د ټول بدن رانغاړل.

**دويم:** دا جامه به يې د هغه جامو څخه نه وي کومه چې د ډول سينګار د پاره اغوندي.

**درېيم:** دومره نرۍ به نه وي چې بدن يې ترې ښکاره شي.

**څلورم:** پراخې به وي، تنګې نه، چې د بدن کوم ځای يې وپېژندل شي.

**پنځم:** خوشبويي به پرې نه وي وهل شوې.

**شپږم:** د سړو جامو ته به ورته نه وي.

**اووم:** د نامسلمانو ښځو هغو جامو ته به نه وي ورته چې هغوی يې خپلو عبادتونو او اخترونو ته اغوندي.

- د مومن له صفاتو څخه.

(الله) تعالی فرمايلي دي: (خبره دا ده چې (رښتيني) بيشکه مؤمنان هغه کسان دي چې کله د الله نوم ياد شي زړونه يې وويرېږي او کله چې آيتونه يې ورباندې ولوستل شي؛ نو ايمان يې ورزيات کړي او په خپل رب بروسه کوي) [الأنفال: ۲].

- ✔ په خپلو خبرو کې ريښتونی وي او دروغ نه وايي.
- ✔ په ژمنه او تړون وفا کوي.

- ✔ د شخړې پر وخت سپکې سپورې نه وايي.
- ✔ امانت ادا کوي.
- ✔ مسلمان ورور ته هغه شی خوښوي چې خپل ځان ته یې خوښوي.
- ✔ له خیره ډک وي.
- ✔ خلکو سره ښېګڼه کوي.
- ✔ خپلولي پالي
- ✔ د الله په پرېکړه (تقدیر) خوښ وي، د پراخۍ پر مهال شکر باسي او د تنګسې پر مهال صبر کوي.
- ✔ حیاناک وي.
- ✔ پر مخلوق زړه سواندی وي
- ✔ زړه یې له کینې او لاسونه یې پر نورو له تېري څخه پاک وي.
- ✔ خلکو ته بخښنه کوي.
- ✔ سود نه خوري او نه راکړه ورکړه پرې کوي.
- ✔ زنا نه کوي.
- ✔ شراب نه څکي
- ✔ ګاونډیانو سره ښېګڼه کوي.
- ✔ ظلم او تېکي نه کوي.
- ✔ غلا او فرېب نه کوي.
- ✔ له مور او پلار سره نېکي کوي اګر که مسلمانان نه وي او په نېکیو کې یې خبره مني.

- ✓ خپل اولاد په نېکه تربيه روزي، د شرعي واجباتو امر ورته کوي او له بديو او حرامو يې منعه کوي.
- ✓ په ديني ځانګړتياوو او هغو عادتونو کې د نامسلمانو د کړنو پيښې نه کوي، چې د هغوی ځانګړتيا او شعار وي.

## نېکبختي مې په خپل دين اسلام کې ده

(الله) تعالی فرمايلي دي: (چا چې نېك عمل وكړ؛ نارينه وي كه ښځينه خو چې مؤمن وي نو خامخا به ښه ژوند وركړو او (اخرت كې به) د هغو نېكو عملونو چې دوی به كول، ښه بدله وركړو) [النحل: ۹۷].

د مسلمان زړه ته چې ډېره خوشحالي، پراخي او خوشبختي راولي، هغه له کوم بت او ژوندي يا مړي منځګړي پرته له خپل پروردګار سره د ده اړيکه ده، ځکه الله تعالی په خپل مبارک کتاب کې ويلي چې هغه تل خپلو بندګانو ته نږدې دی، اوري يې او دعا يې قبلوي، لکه الله (سبحانه وتعالی) چې ويلي دي: (او چې بندګان مې زما په اړه تا كله وپوښتي؛ نو (ورته وايه چې) زه بالكل نږدې يم، د غوښتونكي سوال قبلوم كله چې ما وربولي، نو زما (بلنه) دې هم ومني او پر ما دې ايمان راوړي تر څو په سمه لار محكم پاتې شي) [البقرة: ١٨٦] .

هغه جل جلاله موږ ته د دعا کولو امر کړی او له هغو سترو عبادتونو يې ګرځولې ده، چې مسلمان پرې خپل رب ته نږدې کېږي، لکه الله عز وجل چې ويلي دي: (او ستاسو رب ويلي دي چې ما دروبولئ سوال به مو قبول كړم) [غافر: ٦٠].

نو نېک بنده همېشه الله ته محتاج وي، تل يې په وړاندې دعا کوي او په نېکو عملونو ځان ورنږدې کوي.

او الله تعالی موږ په دې کایناتو کې د یوه لوی حکمت له مخې پیدا کړي یو، هسې خوشې نه، دا لوی حکمت یوازې د هغه بندګي ده، چې شریک ورسره و نه منل شي، موږ ته یې یو شامل رباني دین رالیږلی، چې د خاص او عام ژوند ټولې چارې مو تنظیموي، پر دې عادل دین یې د ژوند ټولې اړتیاوې خوندي کړې دي، چې هغه زموږ دین، ځانونه، ناموسونه، عقلونه او مالونه دي، او څوک چې د شریعت د اوامرو تابع ژوند کوي او له حرامو ډډه کوي، نو دغه اړتیاوې خوندي ساتي او له شک پرته بختور او مطمئن ژوند تېروي.

او د مسلمان اړیکه له خپل رب سره داسې ژوره وي چې نفسي ډاډ او ارام ورکوي، د سکون، امن او خوښۍ احساس کوي او د الله جل جلاله ملتیا، پاملرنه او مومن بنده سره د هغه دوستي احساسوي، الله تعالی ویلي دي: (الله د هغو خلکو دوست دی چې ایمان یې راوړی، له تیارو یې د رڼا پلو ته باسي) [البقرة: ۲۵۷].

دغه لویه اړیکه یو وجداني حالت دی چې د رحمن ذات له بندګۍ نه د خوند اخیستو او ملاقات ته یې د شوق لامل ګرځي او د ایمان د شیرینۍ په احساسولو د بنده زړه د خوشحالۍ په اسمان کې ځنګوي.

هغه شیریني چې یوازې هغه څوک یې بیانولی شي چې د طاعاتو په کولو او له ګناهونو په ډډه کولو یې څکلې ده، له همدې امله د الله رسول محمد -(صلی الله علیه وسلم)- وایي: (هغه چا د ایمان خوند وڅاکه، چې پر الله د رب په توګه، پر اسلام د دین او پر محمد د رسول په توګه راضي شي).

هو کله چې انسان د خپل خالق پر وړاندې خپل همېشنی شتون احساس کړي، هغه په خپلو ښکلو نومونو او صفتونو وپېژني او داسې عبادت یې وکړي لکه ګوري یې چې، عبادت یوازې د الله لپاره وکړي او له الله پرته بل هیچا ته نه، نو په دنیا کې به یو پاک او خوشحاله ژوند وکړي او په اخرت کې به یې نېک انجام په نصیب شي.

ان هغه کړاو چې دنیا کې پر مومن راځي، نو د یقین په ځنی، د الله تعالی پر تقدیر په رضا، د تقدیر پر ټول خیر او شر د الله په حمد ویلو او پر هغې په بشپړې رضا د هغه تاو سرېږي.

بل شی چې مسلمان پرې د خپلې خوشحالۍ او ډاډ د زیاتولو په پار ډېر حرص باید وکړي، د الله تعالی یاد او د قران کریم تلاوت دی، لکه الله تعالی چې ویلي دي. (هغوی چې ایمان راوړی او د الله په یادولو یې زړونه ډاډه شوي، خبردار اوسئ چې زړونه خو د الله په یاد ډاډه کيږي) [الرعد: ٢٨] .

او څومره چې مسلمان د الله ذکر او د قران تلاوت ډېر وکړي، هغومره یې الله تعالی سره اړیکه ټینګیږي، نفس یې پاکیږي او ایمان یې قوي کیږي.

دغه راز مسلمان ته په کار ده، چې له صحیحو مصادرو څخه د خپل دین د مسایلو په زده کړه حریص واوسي، څو په پوهه د الله تعالی عبادت وکړي، نبي -(صلى الله عليه وسلم)- ویلي دي: (د علم زده کړه پر هر مسلمان فرض ده)، او چې د خپل پیدا کوونکي الله تعالی اوامرو ته تسلیم او غاړه ایښودونکی وي، که د دې اوامرو په حکمت خبر وي او که نه، څکه الله تعالی په خپل پاک کتاب کې وايي: نه دي مناسب هیڅ مومن او هیڅ مومنې لره کله چې فیصله وکړي الله او رسول یې د یو کار چې شي دې د هغوی د فیصلې په عوض کې دوی لره اختیار او څوک چې سرغړونه وکړي د الله او د هغه د رسول نو هغه بې لارې شو په یو څرګند بې لاریتوب) [الأحزاب: ٣٦].

وصلى الله وسلم على نبينا محمد وعلى آله وصحبه أجمعين.

پای

# فهرست

سریزه.............................................................................. ٤

الله مې رب دی. ................................................................... ٦

نبي مې محمد -(صلی الله علیه وسلم)- دی........................................ ٨

قران کریم مې د رب کلام(خبری یې) دی ...................................... ٩

د اسلام بناوې پېژندل غوارم ................................................ ٩

د ایمان ارکان پېژندل غوارم .............................................. ١٣

اودس زده کول غوارم ......................................................... ١٩

پر موزو او جرابو مسحه. ..................................................... ٢٢

غسل: ............................................................................ ٢٤

تیمم............................................................................... ٢٤

لمونځ زده کول غوارم........................................................ ٢٥

د مسلمانې ښځې ستر پرده ................................................ ٢٨

نیکبختي مې په خپل دین اسلام کې ده .................................. ٣١

# اسلام وپیژنئ

## له ۱۰۰ څخه په زیاتو ژبو

موسوعة القرآن الكريم
QuranEnc.com

له (۷۵) څخه په زياتو ژبو د قرآن كريم د معناګانو كره ژباړې.

بيان الإسلام
byenah.com

په ۱۲۰ ژبو کې د اسلام پېژندنې او زده کړې لپاره غوره شوي توکي.

موسوعة الأحاديث النبوية
HadeethEnc.com

له (٦٠) څخه په زياتو ژبو د نبوي حديثونو او شرحو كره ژباړې.

ما لا يسع أطفال المسلمين جهله
kids.islamenc.com

له (٤٠) څخه په زياتو ژبو د كوچنيانو او عامه مسلمانانو لپاره سوالونه او ځوابونه.

جامع المحتوى الإسلامي باللغات
islamcontent.com

له (۱۲۵) څخه په زياتو ژبو ډول ډول او هر اړخيز اسلامي توکي.


موسوعات وخدمات إسلامية باللغات
s.islamenc.com

د نړۍ په ژبو د لا زياتو ويب پاڼو لپاره: (s.islamcontent.com)

جمعية الدعوة وتوعية الجاليات بالربوة

Rabwah

جمعية خدمة المحتوى الإسلامي باللغات




978-603-8417-50-8

Ps182